امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

هفته نامه

مدیریت حوادث

۶ الی ۱۱ جدی ۱۴۰۴

شماره یکصدو سی و هفتم

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د لاس په لاس موسسې ترمنځ ټولټال د (۵۳۹,۹۵۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لاس په لاس موسسې د اړیکو برخې له مسؤل، محمد هارون فهیم سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۹ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب په دې ناسته کې وویل، چې روان ژمي ته په کتو د هېواد د خلکو د اړتیا کچه تر پخوا لوړه شوې ده او مؤسسې باید د خلکو د اړتیاوو له مخې، د مرستو پر وخت رسولو لپاره تر وروستۍ حده خپلې هڅې وکړي...

ادامه در صفحه۲

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د زیاتمنو خلکو سره د مرستو په برخه کې د همکاریو له امله د اقرا دعوتي مرکز د رئیس استاد عبدالصمد قاضي زاده ستاینه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د اقرا دعوتي مرکز له رئیس محترم استاد عبدالصمد قاضي زاده او د هېواد له یو تن خیر خواه کس...

ادامه در صفحه ۲

د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین د کندز ولایت له والي سره وکتل او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کارکوونکو ته یې د نظارت او رهنمود ورکولو بهیر پیل کړ

محترم الحاج ملا عبدالولي ځارنوال (حاجي وارث)، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین، د یو تخنیکي او فني پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د خپلو رسمي سفرونو په لړ کې...

ادامه در صفحه۳

برنامه آموزش‌های عملی و مانور جستجو، نجات و مراقبت‌های اولیه در هنگام برف‌کوچ در سالنگ جنوبی برگزار شد

اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با همکاری بنیاد آغاخان برای اسکان، بتاریخ ۹ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق به منظور ارتقای ظرفیت کارمندان و افزایش آمادگی در برابر حوادث طبیعی، برنامه آموزشی...

ادامه در صفحه ۴

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د لاس په لاس موسسې ترمنځ ټولټال د (۵۳۹,۹۵۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لاس په لاس موسسې د اړیکو برخې له مسؤل، محمد هارون فهیم سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۹ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب په دې ناسته کې وویل، چې روان ژمي ته په کتو د هېواد د خلکو د اړتیا کچه تر پخوا لوړه شوې ده او مؤسسې باید د خلکو د اړتیاوو له مخې، د مرستو پر وخت رسولو لپاره تر وروستۍ حده خپلې هڅې وکړي.

په همدې حال کې، د لاس په لاس مؤسسې د اړیکو د برخې مسؤل محمد هارون فهیم، د رواني پروژې تشریح وکړه او د اداري له رهبرۍ څخه یې د مننې او قدردانۍ تر څنګ د پروژې د چټک او شفاف تطبیق ژمنه وکړه.

د یادونې وړ ده، چې په پای کې د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د پنځه سوه او اووه دېرش زره او نه سوه نه پنځوس (۵۳۷،۹۵۹) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه. د دې تفاهم‌نامې له مخې به یاده مؤسسه د بدخشان ولایت په خاش، جرم او ارغنجخوا ولسوالیو کې د څلورو میاشتو په موده کې او په څلورو پړاوونو کې، په هر پړاو کې ۴۲ ډالره د خوراکي توکو د برابرولو لپاره ۱۵۰۰ مستحقو کورنیو ته ووېشي، او همدارنګه ۱۹۰۰ کورنیو به ته د څارویو د خوراکي توکو بستې د ۹۵ ډالرو په ارزښت او دوه لیټره د چینجو ضد دوا وویشل شي.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د زیانمنو خلکو سره د مرستو په برخه کې د همکاریو له امله د اقرا دعوتي مرکز د رئیس استاد عبدالصمد قاضي زاده ستاینه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د اقرا دعوتي مرکز له رئیس محترم استاد عبدالصمد قاضي زاده او د هېواد له یو تن خیر خواه کس سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۹ نېټه وکتل او د هېواد په کچه یې د پېښو له امله د زیانمنو خلکو سره د دوی د خدمتونو او همکاریو له امله نوموړی وستایه.

محترم ترابي صاحب، د اقرا دعوتي مرکز پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل چې د مؤسسو، نهادونو، خیریه بنسټونو او خیرخواه کسانو رول د زیانمنو او اړمنو خلکو د لاسنیوي په برخه کې مثبت او اغېزمن دی. نوموړي زیاته کړه چې د فقر او طبیعي پېښو له امله د خلکو د زیانمنېدو کچې ته په کتو، د هېوادوالو ترمنځ د مرستو د برابرولو په برخه کې لا زیاتې همغږۍ او یووالي ته اړتیا ده. هغه همدارنګه د کونړ ولایت د نورګل ولسوالۍ په قبا ښارګوټي کې د زلزله ځپلو لپاره د کورونو د جوړولو له امله له ښاغلي قاضي زاده څخه مننه وکړه.

په عین حال کې، محترم قاضي زاده صاحب د اقرا دعوتي مرکز د کاري پروګرامونو په اړه محترم ترابي صاحب ته معلومات ورکړل او ویې ویل چې د هرات د زلزلې پر مهال یې د زیانمنو لپاره ۴۸ کورونه جوړ کړي او د کونړ د وروستۍ زلزلې پر مهال یې په نورګل ولسوالۍ کې ۸۰ کورونه جوړ کړي دي. نوموړي همدارنګه وویل چې د نورو پېښو پر مهال یې هم مرستندویه همکاري کړې دي. هغه د اداري له لوی رئیس او د اسلامي امارت څخه مننه وکړه او ویې ویل چې د خوښۍ ځای دی چې د امنیت تر سیوري لاندې د کار او فعالیت زمینه ورته برابره شوې ده.

په پای کې، محترم ترابي صاحب د کونړ ولایت د زلزله ځپلو لپاره د ۸۰ هستوګنیزو کورونو د جوړولو او د خلکو د ملاتړ په برخه کې د نورو فعالیتونو له امله، استاد عبدالصمد قاضي زاده ته د ستاینلیک په ورکولو سره د ده هڅې وستایلې.

د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین د کندز ولایت له والي سره وکتل او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کارکوونکو ته یې د نظارت او رهنمود ورکولو بهیر پیل کړ

محترم الحاج ملا عبدالولي ځارنوال (حاجي وارث)، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین، د یو تخنیکي او فني پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د خپلو رسمي سفرونو په لړ کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کړنو د ارزونې، څېړنې او لارښوونې په موخه، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۷ نېټه کندز ولایت ته ورسېد.

دا سفر په داسې حال کې ترسره شو، چې د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین د اسلامي امارت د فتحې (۲۴ اسد ۱۴۰۰ هـ.ش) څخه تر دې مهال پورې، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندي، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزني، زابل، کندهار، اروزګان، هلمند، نیمروز، فراه، هرات، بادغیس، فاریاب، سرپل، جوزجان، بلخ او سمنګان ولایتونو کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاري بهیر څخه نظارت کړی دی.

د دې سفر په پیل کې، د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ محترم معین د کندز ولایت له والي محترم الحاج مولوي محمدخان دعوت سره، د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د رئیس محترم مولوي شفیق‌الله جواد په شتون کې ولیدل او ورسره یې خبرې اترې وکړې. دا ناسته د سپېڅلي قرآنکریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ محترم معین د خپل سفر د موخې د تشریح پر مهال وویل، چې د دغه سفر اساسي هدف د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د عمومي وضعیت ارزونه، د اسلامي امارت د عالي رهبرۍ د فرامینو، احکامو او لارښوونو د تطبیق څارنه، د مالي او اداري چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د تطبیق څارنه، د وقایوي، اضطراري او انکشافي پروژو ارزونه، د بشري مرستو (خوراکي، غیرخوراکي، نغدي او نورو توکو) د وېش بهیر تعقیبول، د ماین‌پاکۍ چارې، نشراتي فعالیتونه او همدارنګه د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل دي.

هغه ټینګار وکړ، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره د خپلو قانوني صلاحیتونو او مأموریتونو په چوکاټ کې، د وقایوي پروژو د تطبیق، د طبیعي پېښو له امله زیانمنو شویو کسانو ته د بېړنۍ رسېدنې، د خطرونو د مدیریت د ښه والي او د ټولنو د زیان‌منني د کمولو په برخه کې هر اړخیزې همکارۍ ته ژمنه ده.

محترم حاجي وارث صاحب همدارنګه د هغو کورنیو لپاره چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې دي، د بشري مرستو د شفاف، عادلانه او د دقیق سروي پر بنسټ د وېش پر اهمیت ټینګار وکړ. نوموړي زیاته کړه چې د کارکوونکو د کاري بهیر د څارنې او پلټنې تر څنګ، د هغوی د مسلکي ظرفیت د لوړولو په موخه لازمې لارښوونې وړاندې کېږي او په اړوندو برخو کې به روزنیز سمینارونه هم جوړېږي.

وروسته، د کندز ولایت والي محترم مولوي محمدخان دعوت، د راغلي پلاوي هرکلی وکړ او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د رهبرۍ له پاملرنې څخه یې مننه وکړه. نوموړي د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د هڅو او کړنو څخه، چې د زیانمنو شویو کسانو د لاسنیوي په برخه کې ترسره شوې دي، خوښي څرګنده کړه. هغه د طبیعي پېښو پر وړاندې د کندز ولایت د ډېر زیانمنېدو په یادولو سره، په ولایت کې د بشري مرستو د زیاتوالي او د وقایوي پروژو د تطبیق پر اړتیا ټینګار وکړ او له یادې اداري سره یې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ.

ورپسې، د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین پلاوي د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې ریاست کاري بهیر یې له نږدې وڅېړه. په دې لیدنه کې، د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین له کارکوونکو سره وکتل، د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د اسنادو، فعالیتونو او کاري بهیرونو د ارزونې تر څنګ یې، کارکوونکي وهڅول چې د دندو د لایحې سره سم، چټک، پر وخت او اغېزمن خدمات د وړاندې کړي.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوي د دې سفر په ترڅ کې، د دغه ریاست د کارکوونکو لپاره په اړوندو کاري برخو کې د نظارت بهیر، د مسلکي لارښوونو وړاندې کول او د روزنیزو سمینارونو دایرول پیل کړل.

برنامه آموزش‌های عملی و مانور جستجو، نجات و مراقبت‌های اولیه در هنگام برف‌کوچ در سالنگ جنوبی برگزار شد

اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با همکاری بنیاد آغاخان برای اسکان، بتاریخ ۹ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق به‌منظور ارتقای ظرفیت کارمندان و افزایش آمادگی در برابر حوادث طبیعی، برنامه آموزشی-تمرینی جستجو و نجات در هنگام برف‌کوچ را برای ۴۰ تن از کارمندان مرکزی و ولایتی این اداره از ولایت‌های کاپیسا، پنجشیر، پروان و همچنان قوای کاری ریاست حفظ و مراقبت سالنگ‌ها در سالنگ جنوبی ولایت برگزار کرد.

این برنامه به مدت سه روز ادامه داشت که در دو روز نخست، استادان و مربیان بخش‌های تخنیکی و نجات، آموزش‌های نظری را در زمینه شناسایی خطرات برف‌کوچ، شیوه‌های مصونیت فردی، اصول جستجو و نجات، استفاده درست از وسایل نجات و ارائه مراقبت‌های اولیه به اشتراک‌کنندگان ارائه کردند. در روز سوم، تمرین‌های عملی در منطقه گواره‌سنگ مربوط سالنگ جنوبی برگزار شد تا اشتراک‌کنندگان بتوانند آموخته‌های نظری خود را به‌صورت عملی تطبیق نمایند.

در جریان تمرین عملی، سناریوهای فرضی وقوع برف‌کوچ شبیه‌سازی شد و اشتراک‌کنندگان با روش‌های بیرون‌کشیدن افراد گیرمانده زیر برف، انتقال، کمک‌های اولیه عاجل، هماهنگی تیمی و مدیریت صحنه حادثه به‌گونه عملی آشنا شدند. این تمرین ها نقش مهمی در افزایش مهارت‌های عملی نیروهای مسئول در مسیر سالنگ دارد؛ مسیری که همه‌ساله در فصل زمستان شاهد برف‌کوچ‌های شدید و حوادث ناگوار می‌باشد.

همچنان دریافت کننده‌گان این برنامه آموزشی و قوای کار سانگ‌های، برگزاری این‌گونه آموزش‌ها را مؤثر دانسته و خواهان گسترش آن برای سایر کارمندان و قوای کار ریاست حفظ و مراقبت سالنگ‌ها شدند.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۰ نېټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

د پېښو چارو د انسجام معین د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ګدامونو او عامه المنفعه پروژو څخه لیدنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، سمنګان ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې ، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۶ نېټه د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له رئیس محترم الحاج مولوي احسان‌الله احسان او مل پلاوي سره یوځای، د مرستندویو توکو د زېرمو له ګدامونو او په دې ولایت کې له تطبیق شوو وقایوي او عامه‌المنفعه پروژو څخه لیدنه وکړه.

محترم معین صاحب د یاد ریاست له مرکزي ګودامونو او د کرنې ریاست له ګددام څخه کتنه وکړه او د هغو بېلابېلې برخې لکه، د خوراکي او غیرخوراکي توکو زېرمې، بېړني تجهیزات، د معیاري ساتنې څرنګوالی او د احتمالي طبیعي پېښو پر وړاندې د چمتووالي یې هر اړخېزه څېړنه وکړه. د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو د زېرمو د وضعیت، د مرستو د وېش بهیر، لاسته راوړنو او بېړنیو اړتیاوو په اړه مفصل راپور وړاندې کړ او د مرکزي اداري له ملاتړ او همکارۍ څخه یې مننه وکړه.

د پېښو چارو د انسجام محترم معین د ترسره شوو هڅو او فعالیتونو د ستاینې تر څنګ، پر شفاف مدیریت، د مرستندویو توکو د کیفیت ساتنه، د پېښو پر وړاندې بېړنی چمتووالی، د موجودو توکو د چک‌لیست ترتیب (د مقدار، نېټې او کیفیت له پلوه) او د اړوندو بنسټونو ترمنځ د همغږۍ پر پیاوړتیا ټینګار وکړ او د کاري بهیر د لا ښه‌والي لپاره یې لازمې لارښوونې وړاندې کړې.

همدارنګه، نوموړي د سمنګان ولایت په مرکز کې د پلي‌تګ پل او استنادي دېوال د جوړولو له پروژې څخه هم لیدنه وکړه. دغه پروژه چې د خطرونو د کمولو، د خوندیتوب د زیاتولو او د ښاریانو د تګ راتګ د اسانتیا په موخه تطبیق شوې، د وقایوي او عامه‌المنفعه پروژو له جملې څخه ګڼل کېږي.

د یادونې وړ ده چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله د لارښوونې پر بنسټ، د وقایوي او عامه‌المنفعه پروژو د تطبیق لپاره د یو میلیون افغانیو بودجه ځانګړې شوې وه، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري له لوري د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ته وسپارل شوه او په شفاف او اغېزمن ډول ګټه ترې واخیستل شوه. د دغو پروژو د تطبیق په پایله کې، د سیمې زرګونه اوسېدونکي او سلګونه هستوګنیز کورونه د سېلاب له احتمالي خطرونو څخه خوندي شوي دي.

په پای کې، د سیمې خلکو د اسلامي امارت له مشرتابه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه مننه وکړه او د لا ډېرو پروژو د پلي کېدو غوښتنه یې وکړه.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د بشري مرستو د همغږۍ OCHR مؤسسې ترمنځ د (۴۹۱،۱۷۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د بشري مرستو د همغږۍ OCHR مؤسسې د اجرائیوي رئیس محترم انجنیر عبدالبصیر حقمل سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۸ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په پیل کې ترابی صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وویل او له هغوی څخه یې د پلي کېدونکي پروژې د پر وخت او شفاف ډول ترسره کېدو غوښتنه وکړه.

ورپسې، محترم حقمل د خپلې پروژې په اړه بشپړ معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه، چې خپله پروژه به بې ځنډه او شفاف ډول ترسره کوي.

په پای کې، د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د څلور سوه او یو نوي زره او یو سل او څلور اویا (۴۹۱،۱۷۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې د فاریاب ولایت په آلمار، قرمقل او قیصار ولسوالیو کې ۱۸۰۰ مستحقو کورنیو ته د څلورو میاشتو لپاره هره میاشت د ۴۴ ډالرو برابر د خوراکي توکو بستې چې پکې ۵۰ کیلو اوړه، ۴.۵ لیټره غوړي، ۴.۵ کیلو حبوبات او نیم کیلو مالګه شتون لري ووېشل شي او همدارنګه په یادو ولسوالیو کې به ۸۹۰ مستحقو کورنیو ته په یو ځل د ۹۵ ډالرو برابر ۲۰۰ کیلو ګرامه د څارویو خوراکي توکي او ۲ لیټره د چنجیو ضد (ډي وارمر) درمل ووېشل شي.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د افغانستان لپاره د ماین پاکۍ DAFA مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغانستان لپاره د ماین پاکۍ DAFA مؤسسې د عملیاتي چارو له آمر محترم بسمل الله حقمل سره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۸ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په پیل کې ترابی صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وویل او له هغوی څخه یې وغوښتل، چې خپله پروژه دې په پوره شفاف او چټک ډول سره ترسره کړي.

ورپسې، محترم حقمل د خپلې پروژې په اړه بشپړ معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه، چې خپله پروژه به بې له ځنډه ترسره کوي.

په پای کې، د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د اته ویشت زره (۲۸،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې د بلخ ولایت په دهدادي ولسوالۍ کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د پروژې شاوخوا ۸۱۰،۰۰۰ متره مربع ځمکه په معیاري توګه د هر ډول چاودېدونکو توکو او ماینونو څخه پاکه شي.

د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین د کندز ولایت په علي آباد ولسوالۍ کې د جوړې شوې پروژې څخه لیدنه وکړه

محترم الحاج ملا عبدالولي ځارنوال (حاجي وارث) له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین، کندوز ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د رییس محترم مولوي شفیق الله جواد او تخنیکي پلاوي سره یوځای، د کندز ولایت په علي آباد ولسوالۍ کې د طبیعي پېښو د خطرونو د کمولو لپاره د ۱۴۴۷ کال د رجب ۹ نېټه د جوړ شوي پروژې څخه لیدنه وکړه.

د دې سفر په ترڅ کې، د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ مرستیال د پروژې تخنیکي حالت له نږدې وڅېړو او له سیمه ییزو خلکو سره یې د لیدنې او خبرو اترو پرمهال، د سیمې د اوسیدونکو نظرونه، وړاندیزونه او ستونزې په دقت سره واورېدې. هغه د تخنیکي معیارونو سره سم د عامه ګټو پروژو په پلي کولو، په کاري چارو کې شفافیت او د خلکو د اساسي اړتیاوو په پام کې نیولو ټینګار وکړ، او د طبیعي پېښو د خطرونو کمولو، د احتمالي زیانونو مخنیوي او د خلکو د ژوند او ملکیت په ساتنه کې یې د داسې پروژو رول مهم او حیاتي وباله.

محترم حاجي وارث د خپلې ځارنې په جریان کې د پروژې د پلي کولو په پروسه کې یو شمیر تخنیکي نیمګړتیاوې په ګوته کړې او د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د پلي کونکي شرکت انجینر ته یې اړینې او جدي لارښوونې وکړې ترڅو ستونزې سمدلاسه حل کړي، د کار کیفیت ښه کړي او پروژه د ټاکل شوو معیارونو سره سمه بشپړه کړي.

باید وویل شي، چې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د لارښوونو پر بنسټ، په هر ولایت کې د طبیعي پېښو د خطرونو د کمولو لپاره یو میلیون افغانۍ ځانګړې کړې وې، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري یاده اندازه پیسې د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ته ځانګړې کړې وې، او دا پروژه د هغې بودیجې په چوکاټ کې پلي شوه.

د یادونې وړ ده، چې دا پروژه، د ۱۵ متره اوږدوالي، ۶ متره پلنوالي او ۶ متره لوړوالي، چې ټولټال ۳۷۵ متر مکعب حجم لري، د ۹۴۹،۲۵۰ افغانیو په ټولیز لګښت پلي شوه. د دې پروژې په بشپړېدو او ګټې اخیستنې سره، شاوخوا ۵۰ استوګنیز کورونه، له ۱۰۰ جریبه څخه زیاته کرنیزه ځمکه او یو شمېر عامه تاسیسات د طبیعي پېښو له احتمالي خطرونو څخه خوندي شوي دي.

په پای کې، د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین د منظمې ځارنې پر دوام، د پروژو کیفیت د ښه کولو او د زیان منونکو سیمو خوندیتوب ته په جدي پاملرنه ټینګار وکړ، او ډاډ یې ورکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره به د خطرونو کمولو، د زیانونو د مخنیوي او خلکو ته د هر اړخیز ملاتړ چمتو کولو لپاره خپلې هڅې جاري وساتي.

سیمه ییزو اوسېدونکو د دې پروژې له پلي کېدو څخه د خوښي څرګندولو تر څنګ دا یو اغیزمن او پر وخت اقدام یاد کړ، او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پاملرنې او همکارۍ ستاینه یې وکړه، او د دې ولسوالۍ په نورو زیان منونکو سیمو کې یې د ورته پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پېښو چارو د انسجام معین د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست لپاره د اداري ودانۍ د جوړولو په موخه له ځانګړې شوې ځمکې څخه لیدنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، کندز ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له رئیس، محترم مولوي شفیق‌الله جواد، سره یوځای، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۹ نېټه له هغې ځمکې څخه لیدنه وکړه چې د یاد ریاست لپاره د اداري ودانۍ د جوړولو په موخه ځانګړې شوې ده.

د یادونې وړ ده چې د پېښو چارو د انسجام محترم معین تر دې وړاندې د کندز ولایت له محترم والي سره په کتنه او ناسته کې د یاد ریاست لپاره د ځمکې د ځانګړې کېدو موضوع شریکه کړې وه، چې په پایله کې دا ځمکه د ولایت مقام له لوري منظور شوه.

د پېښو چارو د انسجام محترم معین، د سیمې له لیدنې وروسته، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي شفیق‌الله جواد، ته د تخنیکي چارو د تعقیب، د اسنادو د برابرولو او د اداري ودانۍ د جوړولو د بهیر د چټکتیا په برخه کې لازمې او مشخصې لارښوونې وکړې او ټینګار یې وکړ چې اړین اقدامات دې د اړوندو ادارو سره په همغږۍ ژر تر سره شي.

د یادونې ده چې ځانګړې شوې ځمکه د کندز ښار په پنځمه ناحیه کې موقعیت لري، چې اوږدوالی یې ۶۱ متره او پلنوالی یې ۴۱ متره دی، او ټولیز مساحت یې ۲۶۱۳,۳۷ متر مربع ته رسېږي.

د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ګودامونو څخه کتنه ترسره کړه

محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین، کندز ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې، د دغه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له رئیس محترم مولوي شفیق‌الله جواد او مل پلاوي سره یوځای، د یاد ریاست د مرسته کېدونکو توکو د زېرمو له ګودامونو څخه د ۱۴۴۷ کال د رجب ۱۱ نېټه لیدنه وکړه.

د دې کتنې پر مهال، محترم معین د ګودام بېلابېلې برخې وکتلې چې پکې د خوراکي او غیرخوراکي توکو زېرمې، بیړنې تجهیزات، د معیاري ساتنې طریقې او د احتمالي طبیعي پېښو پر وړاندې د چمتووالي کچه په هر اړخیز ډول وارزول شوه.

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو د زېرمو د موجوده وضعیت، د مرستو د وېش بهیر، لاسته راوړنو او بیړنیو اړتیاوو په اړه مفصل راپور وړاندې کړ او د مرکزي اداري له ملاتړ او همکاریو یې مننه وکړه.

د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ محترم معین د ترسره شویو هڅو او فعالیتونو څخه د رضایت څرګندونه وکړه او پر شفاف مدیریت، د مرسته کېدونکو توکو د کیفیت په ساتنه، د پېښو پر وړاندې فوري چمتووالی، د موجودو توکو د چک لېست ترتیب (د مقدار، نېټې او کیفیت له اړخه) او د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ پر پیاوړتیا یې ټینګار وکړ، او د کاري بهیر د لا ښه والي لپاره یې لازمې لارښوونې وړاندې کړې.

دیدار معین انسجام امور حوادث با والی ولایت بدخشان و آغاز روند نظارت و رهنموددهی به کارمندان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث

محترم الحاج ملا عبدالولی ځارنوال (حاجی وارث)، معین انسجام امور حوادث ادارۀ ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در رأس یک هیأت فنی و تخنیکی، در ادامۀ سفرهای رسمی خویش به ولایات کشور، به‌منظور بررسی، ارزیابی و رهنمایی کارکردهای ریاست های آمادگی مبارزه با حوادث، بتاریخ ۱۲ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق وارد ولایت بدخشان گردید.

این سفر در حالی انجام شد که معین انسجام امور حوادث از زمان فتح امارت اسلامی افغانستان (۲۴ اسد ۱۴۰۰ هـش) تا اکنون، از روند کاری ریاست‌های آمادگی مبارزه با حوادث در ولایات لغمان، نورستان، کنر، ننگرهار، بامیان، غور، دایکندی، میدان‌وردک، لوگر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزنی، زابل، کندهار، اروزگان، هلمند، نیمروز، فراه، هرات، بادغیس، فاریاب، سرپل، جوزجان، بلخ، سمنگان و کندز نظارت به‌عمل آورده است.

در آغاز این سفر، محترم معین انسجام امور حوادث با محترم الحاج شیخ الحدیث محمد اسماعیل غزنوی، والی ولایت بدخشان، با حضور محترم مولوی محمد اکرم اکبری، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث این ولایت، دیدار و گفتگو نمود. این نشست با تلاوت آیاتی چند از کلام‌الله مجید آغاز گردید.

محترم معین انسجام امور حوادث ضمن تشریح هدف سفر خویش، آن را بررسی وضعیت عمومی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان، پیگیری تطبیق فرامین، احکام و هدایات مقام عالی رهبری امارت اسلامی، ارزیابی امور مالی و اداری، نظارت بر تطبیق تفاهم‌نامه‌ها، بررسی پروژه‌های وقایوی، اضطراری و انکشافی، پیگیری روند توزیع کمک‌های بشردوستانه (خوراکی، غیرخوراکی، نقدی و سایر اقلام)، امور ماین‌پاکی، فعالیت‌های نشراتی و همچنان استماع مشکلات و پیشنهادات عنوان نمود.

وی تأکید کرد که ادارۀ ملی آمادگی مبارزه با حوادث در چارچوب صلاحیت‌ها و مأموریت‌های قانونی خویش، متعهد به همکاری همه‌جانبه در راستای تطبیق پروژه‌های وقایوی، رسیدگی فوری به نیازهای متضررین حوادث طبیعی و بهبود مدیریت خطرات و کاهش آسیب‌پذیری جوامع می‌باشد.

محترم حاجی وارث صاحب همچنان بر اهمیت توزیع شفاف، عادلانه و مبتنی بر سروی دقیق کمک‌های بشردوستانه برای خانواده هایی که در نتیجۀ حوادث طبیعی آسیب دیده‌اند، تأکید ورزید. وی افزود که در کنار نظارت و بررسی از روند کاری کارمندان، برای ارتقای ظرفیت مسلکی آنان، رهنمودهای لازم ارائه گردیده و سمینارهای آموزشی در بخش‌های مربوطه تدویر می‌گردد.

در ادامه محترم والی صاحب در سخنرانی خویش با اشاره به موقعیت جغرافیایی این ولایت گفت که بخش اعظم بدخشان را مناطق کوهستانی تشکیل می‌دهد و این ولایت همه‌ساله از اثر حوادث طبیعی چون زلزله، سیلاب، برف‌کوچ، لغزش زمین و مسدود شدن راه‌های مواصلاتی متضرر می‌گردد. وی تأکید نمود که بدخشان به‌منظور کاهش آسیب‌پذیری، نیازمند تطبیق پروژه‌های وقایوی و دریافت کمک‌های بشردوستانه می‌باشد.

همچنان محترم غزنوی صاحب افزود که علاوه بر چالش‌های ناشی از حوادث طبیعی، در این اواخر شمار زیادی از عودت‌کننده‌گان

ادامه صفحه بعد

اخراجی از کشورهای همسایه، ترکیه و کشورهای اروپایی به این ولایت بازگشته‌اند که این وضعیت نیاز جدی به مساعدت‌های عاجل و دوامدار بشری را افزایش داده است.
محترم غزنوی صاحب همچنان تأکید نمود که تطبیق احکام اسلامی در تمام عرصه‌ها، به‌خصوص در روند تفتیش و نظارت از امورات، یک اصل اساسی بوده و باید این پروژه‌ها با شفافیت کامل و مطابق به اصول شرعی و تخنیکی تطبیق گردند تا از بروز حوادث جلوگیری شده و مصونیت مردم تأمین شود.
محترم والی صاحب ضمن ابراز خرسندی از این روند، تأکید نمود که باید این شیوه در تمامی امور رسمی ادارات تطبیق گردد. وی این اقدام را یک گام مثبت در بهبود امور اجرایی دانسته و افزود که تطبیق چنین روندی می‌تواند هماهنگی و انسجام بهتر را در واحدهای دومی ادارات ایجاد نماید.
سپس، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث در سخنرانی خویش پیرامون مشکلات و چالش‌های موجود در ولایت بدخشان صحبت نموده و اظهار داشت که این ولایت به دلیل آسیب‌پذیری بلند در برابر حوادث طبیعی، نیازمند توجه جدی‌تر در بخش تطبیق پروژه‌های وقایوی و ارائه کمک‌های عاجل بشری می‌باشد. وی تأکید کرد که افزایش همکاری نهادهای ذیربط و مؤسسات همکار می‌تواند نقش مؤثری در کاهش خطرات حوادث و رسیدگی به نیازمندان ایفا نماید.
متعاقباً، هیأت معین انسجام امور حوادث از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان بازدید نموده و جریان کاری این ریاست را از نزدیک مورد بررسی قرار داد. در این بازدید، معین انسجام امور حوادث با کارمندان دیدار نموده، مشکلات و پیشنهادات آنان را استماع کرد و ضمن ارزیابی اسناد، فعالیت‌ها و روندهای کاری، کارمندان را به ارائهٔ خدمات سریع، به‌موقع و مؤثر مطابق لایحهٔ وظایف تشویق نمود.
قابل یادآوری است که هیأت متذکره در جریان این سفر، روند نظارت، ارائهٔ رهنمودهای مسلکی و تدویر سمینارهای آموزشی را برای کارمندان این ریاست در بخش‌های کاری مربوطه آغاز نمودند.

د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱,۶۴۹ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدې او غیرخوراکي مرستې وویشلې

د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)، د PIN موسسې او د سولې د ټینګښت بشرپاله موسسې په مالي همکارۍ، د یاد ولایت په دره صوف پائین او خُلم ولسوالیو او په مرکز کې د تېرې زلزلې له امله ۱,۶۴۹ زیانمنو، د ښځو په سرپرستۍ کورنیو او کونډو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۷ نېټه نغدې او غیرخوراکي مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، د PIN موسسې له لوري ۹۴۸ کورنیو هرې یوې ته ۲۹,۶۰۰ افغانۍ، د IOM له لوري ۶۵۱ کورنیو هرې یوې ته ۱۳,۲۰۰ افغانۍ نغدې پیسې، د حمام یو کېټ، د ژمنۍ البسې یو کېټ او د سولې د ټینګښت بشرپاله موسسې له لوري ۵۰ کورنیو هرې یوې ته ۱۳,۱۴۰ افغانۍ نغدې پیسې وویشل شوې، چې د وېشل شویو نغدو مرستو اندازه ټولټال اووه دېرش میلیونه او درې سوه یوولس زره (۳۷,۳۱۱,۰۰۰) افغانۍ کېږي.

د کندز ولایت د کډوالو له پنډغالي څخه د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین لیدنه او د جومات خیمې په نصبولو سره د دیني آسانتیاوو برابرول

محترم الحاج ملا عبدالولي ځارنوال (حاجي وارث)، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د انسجام او همغږۍ معین، کندز ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د رئیس محترم مولوي شفیق‌الله جواد سره یوځای، د کندز ولایت د کډوالو له پنډغالي څخه د ۱۴۴۷ کال د رجب ۹ نېټه لیدنه وکړه.

محترم معین صاحب د دې لیدنې پر مهال له کډوالو سره وکتل او خبرې یې ورسره وکړې، د پنډغالي له عمومي وضعیت، شته ستونزو او د اوسېدونکو له اساسي اړتیاوو څخه یې له نږدې ځان خبر کړ او د کډوالو د وضعیت د لا پاملرنې او رسېدنې پر اړتیا یې ټینګار وکړ. نوموړي وویل چې اسلامي امارت د خپلو امکاناتو او توان تر بریده د کډوالو د اساسي اړتیاوو د پوره کولو لپاره ژمن دی او هڅه کوي څو هغوی ته د ښه، خوندي او باعزته ژوند زمینه برابره کړي.

همدارنګه، محترم حاجي وارث څرګنده کړه چې له دې وړاندې کډوال د مناسب ځای د نشتون له امله خپل پنځه وخته لمونځونه په جماعت سره په ازاده فضا کې ادا کول. له همدې امله، د کندز ولایت له محترم والي او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له رئیس سره په همغږۍ، د کمپ د ننه د پنځه وخته لمونځونو د ادا کولو او همدارنګه د کډوالو د ماشومانو لپاره د قرآن کریم د تدریس په موخه یوه خیمه د درې ټوټه غالیو سره نصب شوه، ترڅو یې دا مهمه دیني او تعلیمي اړتیا پوره شي.

په همدې حال کې، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رئیس، محترم مولوي شفیق‌الله جواد، د ترسره شویو فعالیتونو او خدمتونو په اړه معلومات وړاندې کړل، د ملي ادارې د رهبرۍ له پاملرنې او همکارۍ څخه یې مننه وکړه او ټینګار یې وکړ چې دا ریاست تل هڅه کوي څو کډوالو ته لازم او بیړني خدمات پر وخت وړاندې کړي.

همداراز، د کډوالو استازو د اسلامي امارت د مسؤلینو له پاملرنې څخه د مننې او قدرداني کولو تر څنګ، د مرستو د دوام او د پنډغالي د اوسېدونکو د دیني، تعلیمي او معیشتي اړتیاوو د لا ډېرې رسېدنې غوښتنه وکړه.

د یادونې وړ ده چې نصب شوې خیمه ۲۴ متره مربع مساحت لري او په یو وخت کې له ۳۰ څخه د زیاتو لمونځ کوونکو د منلو وړتیا لري. دا خیمه به د پنځه وخته لمونځونو د ادا کولو لپاره د جومات په توګه او همدارنګه په ټاکلو وختونو کې د کډوالو د ماشومانو د زده کړې او تدریس لپاره کارول کېږي.

په پای کې، محترم معین صاحب له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم رئیس ته لارښوونه وکړه، څو د چاپېریال ساتنې او ښارجوړونې ریاستونو سره په همغږۍ د پنډغالي د اوبو اړتیا پوره کړي او د کندز ښاروالۍ سره د پنډغالي د پاکوالي او د کثافاتو د راټولولو په برخه کې لازم اقدامات او لارښوونې عملي کړي.

د دایکندي ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰ زیاتمنو کورنیو ته خوراکي مرستې وویشلې

د دایکندي ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په مرکز نیلي ښار کې د و چکالۍ او اورلګېدنې له امله ۳۰ زیاتمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۶ نېټه خوراکي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۵ کیلو بوره او نیم کیلو چای وویشل شو.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث کابل برای ۱۴۱ خانواده آسیب‌پذیر در ولسوالی ده‌سبز کمک نقدی و غیرخوراکی توزیع کرد

بر اساس تفاهم نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با مؤسسه بین‌المللی انترساس، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، با حمایت مالی موسسه مذکور، بتاریخ ۶ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۴۱ خانواده آسیب‌دیده، دارای معلولیت و مستحق در ولسوالی ده‌سبز این ولایت، کمک‌های نقدی و غیرخوراکی توزیع کرد.

در این روند پس از سروی، برای هر خانواده مبلغ ۵۸۰۰ افغانی پول نقد و یک بسته زمستانی توزیع نمود که بسته زمستانی شامل ۳۶ قلم وسایل ضروری زمستانی خانوار می‌باشد.

د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۶۹ کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د RRAA موسسې تر منځ د هوکړه لیک له مخې، د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۶ نېټه ۱۶۹ مستحقو کورنیو ته د یاد ولایت په مرکز ترینکوټ او اړونده ولسوالیو کې د تشنابونو د ترمیم لپاره نغدي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۳,۷۶۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال شپږ سوه پنځه دېرش زره او څلور سوه څلوېښت (۶۳۵,۴۴۰) افغانۍ نغدي پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د پنجشیر ولایت له خطر سره په مخ سیمو کې د خبرداري لوحې نصب شوې

د پېښو خطرونو د مخنیوي او د عامه پوهاوي لوړولو په موخه، د ۱۴۴۷ کال د رجب ۶ نېټه د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت اړوند له خطر سره په مخ یو شمېر سیمو او لارو کې د واورې شویېدو او ډوبېدو په اړه د خبرداري لوحې نصب کړې.

دا لوحې د پنجشیر ولایت په پریان، حصه اول، شتل ولسوالیو او مرکز کې په هغو سیمو کې چې د خطرونو رامنځته کېدو احتمال شتون درلود، نصب شوې.

د دې اقدام موخه، د سیمې د اوسېدونکو، مسافرو او د نښلوونکې لارې د کاروونکو لپاره پوهاوی وړاندې کول دی، ترڅو د خبرداریو په پام کې نیولو سره د احتمالي ځاني او مالي زیانونو مخنیوی وشي.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۶۷۸ خانواده زلزله‌زده کمک‌های نقدی و خوراکی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ASIO که تمویل‌کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا (WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان با حمایت این مؤسسه، پس از انجام سروی بتاریخ ۶ رجب سال ۱۴۴۷ هـ ق در ولسوالی حُلم آن ولایت، کمک‌های نقدی و خوراکی را توزیع نمود.

در این روند، پس از سروی و با حضور مسئولین، به هر خانواده مبلغ ۵،۸۰۰ افغانی، ۱،۵ کیلو پلمپی و ۳ کیلو سوپر سریال توزیع گردید که در مجموع مبلغ سه میلیون و نه‌صد و سی‌ودو هزار و چهارصد (۳،۹۳۲،۴۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده اختصاص داده شده بود.

د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰۵ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د RRAA موسسې تر منځ د هوکړه لیک له مخې، د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، ۳۰۵ کورنیو ته چې د طبیعي پېښو له امله یې په مرکز ترینکوټ او اړونده ولسوالیو کې خونې ویجاړې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د رجب ۷ نېټه د خونو د ترمیم لپاره نغدې مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۳،۱۸۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال اووه میلیونه او نه شپېته زره او نه سوه (۷،۰۶۹،۹۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د پکتیا ولایت په وزې ځدرانې ولسوالۍ کې د یو استنادي دیوال د جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې دي

